## د افغانستان ملي انسجام حرکت

## موږ د افغانستان د ټولو خلکو لپاره خونديتوب غواړو

د افغانستان ملي انسجام حرکت يو ملي او ولسي خوځښت دئ چې د افغانستان له بېلابېلو اقشارو، سياسي ګوندونو، مدني ټولنو، صنفي اتحاديو، ديني علماوو قومي مشرانو او ټولنې له مخورو شخصيتونو څخه جوړ شوی چې هدف يې د افغانستان ملي خونديتوب دئ.

دا حرکت نه مدني ټولنه او نه هم تر اوسه پورې سياسي ګوند دئ، بلکې يو ولسي حرکت او خوځښت دئ چې د ټولنې د ټولو اقشارو د خونديتوب او ګټو لپاره کار کوي، زموږ حرکت نه اپوزيشن او نه هم د حکومت ملګرى دئ، موږ ملي خونديتوب غواړو، که حکومت، سياسي ډلې، مدني ټولنې او د ټولنې هر مخور شخص زموږ د پروګرام ملاتړ وکړي موږ يې هرکلی کوو.

موږ په افغانستان کې دننه يو بل ته ملامتوو، څکه موږ پوهېږو چې زموږ د بدمرغۍ اصلي عوامل د افغانستان له پولو څخه دباندې دي، څرنګه چې زموږ ستونزه يوه نړيواله ستونزه ده، بايد حل يې هم نړيوالو ټولنو ته راجع شي، موږ خپله طرحه د يوې حقوقي دعوې په بڼه چمتو کړې او نړوالو حقوقي او قضايي ادارو ته مو راجع کړې ده، د دې تر څنګ مو د څو هېوادونو سفارتونو او پارلمانونو ته هم سپارلې ده، ځينو نړيوالو ادارو رسماً خبر راکړی چې ستاسې دعوه مو واخيسته او غور ورباندې کوو، خو ځينو ادارو لا تر اوسه پورې خبر نه دئ راکړی، اوس هم د کورونا له امله ډېرې ادارې تړلي دي، که دا بنديزونه ليري شول، موږ به د خپلې دعوې لپاره مدافع وکيلان ونيسو او په نړيواله کچه به خپله دعوه مخ ته يوسو.

موږ حکومت هم د ملت برخه بولو، که چېرې موږ دا دعوه وګټله او نړيوالو مو ملاتړ وکړ، په دې کار کې د حکومت هم خير دئ. موږ له حکومت څخه هم غوښتني چې دا دعوه تر نړيوالې ټولنې پورې ورسوي او زموږ لاسنيوی وکړي، موږ دا موضوع د افغانستان پارلمان، امنيت شورا، بهرنيو چارو وزارت او ولسمشرۍ دفتر سره شريکه کړې ده، خو له بده مرغه چې دوی موږ ته جواب نه دئ راکړی.

د افغانستان ملي انسجام حرکت اوس مهال په دوو برخو کې کار کوي، يو په نړيواله سطحه هڅې کوو چې دا دعوه تر حقوقي ادار پورې ورسوو، بهرنيو پارلمانونو او سياسي ګوندونو سره اړيکي نيسو چې خپل حکومتونه قانع کړي، تر ډېره حده مو

هڅه دا ده چې نړیوال  د بن د ۱۳۸۶ پریکړي له مخي قانع کړو او ورته ووایو چې دلته یو پوره ملت له تباهۍ سره مخ دئ، موږ ورک کېږو، موږ د نړیوال کلي یو کور یو، موږ حق لرو چې د نړیوال مدنی او سیاسي حقوقي میثاق د دوهمي برخي څلورمي مادې د ۱۹۶۶م کال د ډسمبر د مصوبې له مخي نړیوال سازمان مکلف دی چي د افغانستان د ملت څخه په اوسني خاصو شرایطو کښې حمایت وکړي.

زموږ د کار بله برخه د خلکو انسجام او یووالی دئ، موږ د ټولنې له بېلابېلو اقشارو سره خبرې کړی دي، موږ وینو چې هیڅوک هم د خوندیتوب احساس نه کوي، زموږ د دعوې نوم (ملي خوندیتوب) دئ چې پر پنځو برخو وېشل شوی دئ:

۱: سیاسي خوندیتوب

۲: نظامي خوندیتوب

۳: اجتماعي خوندیتوب

۴: اقتصادي خوندیتوب

۵: محیطي خوندیتوب.

الف: سیاسي خوندیتوب:

---------------------------

لومړۍ ماده:

د افغانستان د سولې په برخه کې د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد دریځ او لیدنې کتنې اوس هم ملت ته پوره روښانه نه دي. څرنګه چې د سولې یو اړخ افغانان دي، نو باید د سولې په اړه هره موافقه، هره خبره او هر چا سره هوکړه لیک له عامو افغانانو سره شریک شي. موږ د ښاغلي خلیلزاد د ځینو ملاقاتونو، پټو خبرو او تړونونو په اړه شکونه او اندېښنې لرو، باید ښاغلی خلیلزاد موږ ته معلومات راکړي چې د سولې خبرې تر کومه ځایه رسېدلي، په دې لاره کې ستونزې څه دي؟ بل پړاو یې څه دئ او په دې پړاو کې د افغانانو ملي ګټو ته څومره پام شوی دئ؟

دوهمه ماده:

کله چې نړیوالې ټولنې، په تېره بیا امریکایانو د طالبانو رژیم رانسکور کړ، هغه وخت د امریکایانو پلمه دا وه چې موږ په افغانستان کې نړیوال تروریزم څپو او د طالبانو رژیم یې هم له دې امله پړ وباله چې د القاعده شبکې مشر اسامه بن لادن او د هغه

انډیوالانو ته یې پناه ورکړې ده، خو نن امریکایانو د جګړې له اصلي طرف، یاني نړیوالو تراهګرو ډلو سره روغه نه ده کړې، موږ دا اندېښنه لرو چې د جګړې اصلي عواملو ته پام نه دئ شوی. بله خبره دا ده چې هغه وخت په افغانستان کې یوازې د (القاعده) په نوم تراهګرې ډلې فعالیت کاوه، خو نن داعش او داسې نورې ډلې هم فعالیت کوي، موږ پوهېږو چې د افغانستان جګړه تر پخوا ډېره پېچلې شوې او سخته شوې ده، اوس به د دې ضمانت څوک کوي چې یوازې له طالبانو سره د سولې له لارې به په افغانستان کې جګړه بندېږي؟ ځکه د جګړې اصلي عوامل نه پخوا طالبان وه او نه هم اوس طالبان دي، بلکې د جګړې اصلي عوامل نړیوال تروریزم او د نشه یي موادو نړیوالې مافیایي ډلې دي چې په دې اړه امریکایانو تر اوسه پورې افغانانو ته هیڅ ډول ډاډ نه دئ ورکړی، موږ په دې اړه اندېښنې لرو او باید موږ ته وضاحت راکړل شي. موږ له طالبانو سره د سولې ملاتړ پخوا هم کړی او بیا یې هم کوو، خو د دې لپاره چې دا سوله یوه بله جګړه و نه زېږوي باید د جګړې اصلي عواملو ته پام وشي چې هغه د افغانستان له پولو څخه دباندې د تراهګرو د روزلو ځالې او نشه یي موادو د قاچاقو نړیوالې مافیایي ډلې دي چې د تراهګرو ډلو مالي سرچینې دي.

دریمه ماده:

امریکایانو، ناټو او متحدینو یې ژمنه کړې وه چې په افغانستان کې به تراهګر ځپي او افغانستان به له نشه یي بوټو څخه پاکوي، دا ژمنه یې هم کړې وه چې په افغانستان کې به ډیموکراټیک بنسټونه جوړوي، خو موږ وینو چې دا هدف یو هم نه دئ تر لاسه شوی، خو افغانانو ته خورا ډېر زیان اوښتی دی، اوس باید نړیواله ټولنه افغانانو ته وضاحت ورکړي چې د دې ناکامۍ علتونه څه دي؟ د دې ناکامۍ مسئولیت د چا پر غاړه دئ او تر دې وروسته به د افغانستان برخلیک څنګه کېږي؟

خلورمه ماده:

د طالبانو او امریکایانو تر منځ د سولې تر موافقې وروسته نه یوازې دا چې جګړه کمه شوې نه ده، بلکې نوره هم ډېره شوې ده، په دې جګړه کې ملکي خلکو او عامه تاسساتو ته تر ټولو ډېر زیان اوښتی دئ. موږ په مخکینۍ اعلامیه کې هم ویلي او بیا هم وایو چې د تلپاته سولې لپاره اوربند اساسي شرط دئ، موږ پر نړیواله ټولنه، په تېره بیا امریکایانو او طالبانو باندې غږ کوو چې تر بین الافغاني خبرو مخکې دي اورد مهاله اوربند وکړي.

پنځمه ماده:

طالبانو د قطر په تړون کې امریکایانو ته ډاډ ورکړی چې له نړیوالو ترهګرو ډلو سره به اړیکي پرې کوي، خو دا ډاډ یې نه دئ ورکړی چې د نشه يي موادو له مافیایي ډلو سره به هم اړیکې پرې کوي، موږ هیله لرو چې په بین الافغاني خبرو کې دې موضوع ته هم ځای ورکړل شي.

شپږمه ماده:

په افغانستان کې په پراخه پیمانه کېمیاوي نشه يي مواد تولېد کېږي لکه هیرویین، ښیښه او داسي نور، خو هغه پریکرسرونه یا کېمیاوي مواد چې د دې نشه يي موادو په جوړولو کې کارول کېږي، له ګاونډیو هېوادونو څخه افغانستان ته راوړل کېږي، نړیواله ټولنه باید زموږ پر ګاونډیانو غږ وکړي چې خپلې پولي وڅاري، ځکه هغوی دا توان لري چې پر خپلو پولو د قاچاقو مخه ونیسي، خو که د دې قاچاقو مخه نه نیسي، نو دا مانا لري چې د دوی نظامیان له نړیوالو مافیایي ډلو سره لاس لري.

ب: نظامي خوندیتوب:

----------------------

اوومه ماده:

زموږ سیاسي ثبات، ملي امنیت، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي وحدت د امنیتي ادارو په پیاوړتیا پورې تړلی دئ، موږ د دې ادارو د خوندیتوب په اړه اندېښنې لرو؟ موږ له افغان دولت څخه غواړو چې امنیتي ادارې له سیاسي او قومي تمایلاتو او فساد څخه پاکي کړي، دغه ډول له نړیوالې ټولنې، په تېره بیا امریکایانو څخه وضاحت غواړو چې له طالبانو سره تر سولې وروسته به د دې ادارو برخه لیک څنګه کېږي؟ ځکه طالبانو یو ځل د قطر په غونډه کې رسنیو ته ښکاره وویل چې اوسنۍ امنیتي ادارې به منحل کېږي. بل دا چې موږ د ۱۳۷۱ شمسی کال د وختونو ترخه تجربه لرو، موږ نه غواړو چې دا تجربه بیا تکرار شي.

ج: اجتماعي خوندیتوب:

------------------------

اتمه ماده:

موږ پخوا هم د طالب زندانیانو د ازادېدو ملاتړ کړی او بیا یې هم کوو، خو د دې زندانیانو د خوندیتوب خبره هم کوو، موږ غواړو چې دا زندانیان دي عادي ژوند ته راوګرځي، زموږ غوښتنه دا ده چې نه یې څوک وځوروي او نه یې هم څوک بیرته جګړې ته وهڅوي، او همدا رنګه د هغه شهیدانو او معلولینو د وارثینو لپاره د حقه حقوقو غوښتونکي یو ځکه چي دوي خپل ځانونه د نړیوال تروریزم په مبارزه کي او د دمکراسـي نه د دفاع په خاطر قرباني کړي دي.

نهمه ماده:

موږ د ټولو افغانانو لپاره خوندیتوب غواړو، تر څو چې د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د سولې ضمانت نړیوالې ټولنې، په تېره بیا امریکایان او انګرېزان و نه کړې، دا سوله یوه نوې جګړه زېږوي، که طالب له حکومت سره یو ځای کېږي او د طالب ځای یوه بله جنګي ډله نیسي، نو دا ډله د طالبانو ملکي ملاتړو ته هم خطر دئ، موږ د هغوی خوندیتوب هم غواړو، هغوی هم افغانان دي، باید د سر، مال او عزت ساتنه یې وشي.

لسمه ماده:

افغانستان له امریکایانو سره دوه اړخیز امنیتي تړون یا (BSA) لاسلیک کړی، خو بیا هم له څو کالو راهیسې پر کونړ ولایت باندې د پاکستان له خوا توغندي رااوري، موږ له امریکایانو څخه هیله کوو چې د خپل مسئولیت له مخې د دې بریدونو مخه ونیسي او یا دي موږ ته وضاحت راکړي چې د دې بریدونو مخه ولې نه نیسي؟

یوولسمه ماده:

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې افغانان ځورول کېږي او حقوق یې تر پښو لاندې کېږي چې یوه بېلګه یې څه موده مخکې د ایران د پوله ساتو ځواکونو له خوا د څو افغانانو وژل و، موږ له نړیوال بشري سازمان څخه غواړو ، چي د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق د دریيمي برخي نهمي مادې مطابق او همداسي د بشري حقوقو د نړیوالي اعلامیې شپږمي مادې له مخي د افغانانو د حقوقو او ازادي څخه دفاع وکړي.

دوولسمه ماده:

طالبان یوه جنګي ډله ده، کله چې امریکایان له هغوی سره د سولې تړون کوي او بیا په دولت کې مدغم کېږي، نو د هغو نظامي افسرانو برخلیک به څنګه کېږي چې

په تېرو نولسو کالو کې یې د افغان دولت، ملي او اسلامي ارزښتونو، ډیموکراسۍ او بشري حقونو په ملاتړ او دغه ډول یې د نړیوالې تراهګرۍ او نشه یي موادو پر ضد مبارزه کړې ده؟ په تېره بیا د هغو نظامي افسرانو، قاضیانو او څارنوالانو، دغه ډول د هغو ملکي مامورینو د ژوند ضمانت به څوک کوي چې اوس تقاعد سوي او په تش لاس په کورونو کې ناست دي؟ ځکه طالبان پخوا یوازې مسلح وه، خو اوس به هم مسلح او هم به سیاسي واک ولري، دا ضمانت به څوک ورکوي چې دوی به غچ نه اخلي؟ دا ضمانت به څوک ورکوي چې دوی به ټول سولې ته غاړه ږدي، پر څو ډلو به نه وېشل کېږي او یوه ډله به یې بیا هم د جنګ او غچ اخیستلو لپاره په جبهه کې نه پاته کېږي؟ موږ په دې اړه له نړیوالنې ټولنې، په تېره بیا امریکایانو او انګرېزانو څخه وضاحت غواړو.

د: اقتصادي خوندیتوب:

-----------------------

دیارلسمه ماده:

په رسنیو کې څو ځله داسې راپورونه خپاره شوي چې له افغانستان څخه په غیر قانوني ډول پیسې ایستل کېږي، موږ له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوو چې د دې پیسو مخه ونیسي، ځکه دا کار نه یوازې دا چې په افغانستان کې جرمونو ته لاره اواروي، بلکې جرمي اقتصاد هم پیاوړی کوي.

ه: محیطي خوندیتوب:

----------------------

خوارلسمه ماده:

په افغانستان کې د نشه یي بوټو کښت او نشه یي موادو کارخانو زموږ د ژوند چاپېریال ته سخت زیان رسولی دئ، د نشه یي بوټو ګټه د نړیوالو مافیایي ډلو جېب ته لوېږي، خو زموږ بېچاره ولس غنم، مېوه، او سبزیجات د ګاونډیانو څخه په لوړه بیه رانیسي، د نشه یي موادو مافیایي باندونه بزګر هڅوي چې ژور کوهي وکیني، په دې ډول وینو چې ورځ په ورځ تر ځمکه لاندې د اوبو سطحه ټیټېږي چې دا کار په راتلونکي کې موږ ته یو لوی خطر دئ، موږ له نړیوالې ټولنې څخه غواړو چې په افغانستان کې د تروریزم تر څنګ د نشه یي موادو مافیایي ډلې هم وځپي، که دا کار نه شي کولای، لږ تر لږه دې د نشه یي موادو د قاچاقو نړیوالې لارې وتړي.

یادونه:

د هغه اداري لکه یوناما، ولسي جرګه، مشرانو جرګه او امنیت شورا چې زموږ دعوه یې تر نړیوالو حقوقي سرچینو پورې نه ده رسولې له دوي څخه غواړو چې زموږ عریضه او طرحه تر نړیوالو حقوقي ادارو و رسوي.

په درنښت

د افغانستان ملي انسجام حرکت عالي شورا له خوا

**پته:** ۵۸ نمبر کور، بوعلي سینا کورس ته مخامخ، د مجلل هوټل کوڅه، ده مزنګ څلور لاري ته نژدې، دارالامان سړک، کابل.

**موبایل شمېرې:** 791363636 (0) 700888882 (0) 93+

**برېښنالیک پته:** declaration.nima@gmail.com